## ځانګړی ابرأ
هغه ابرأ ده چې یو شخص بل شخص ته په ځانګړې دعوی یا موضوع کې ورکړې وي. دری: [ابرأ خاص]

## ځانګړی (خاص) حجر
د ځینو حقوقي تصرفاتو څخه د واکمنې محکمې په حکم د شخص منع کول دي. (حجر ته دې مراجعه وشي). دری: [حجز خاص]

## ځانګړی (خاص) سهامی شرکت
هغه شرکت دی چې ټولې پانګې یې د بنسټ ایښودلو پرمهال په انحصاري توګه د بنسټ ایښودونکو له خوا تأمین شوي وي. دری: [شرکت سهامی خاص]

## ځانګړی (خاص) قایم مقام
هغه شخص دی چې د ټاکلي عین یا عیني حق په هکله د بل شخص ځای ناستی کیږي. دری: [قایم مقام خاص]

## ځانګړی قصد
هغه ناوړه نیت او انګېزه ده چې مجرم یې د یوه مشخص د جرمي عمل په اړه لري. دری:[قصد خاص]

## ځانګړی نهر
هغه مملوکه نهر چې متفرقه اوبه لري او د یو تعداد افرادو او اشخاصو (شریکانو) په سیمه (ځمکې) کې په مصرف ورسیږي. او د شفعې حق پر هغوی ثابت وي.
دری:[نهر خاص]

## ځانګړې لارې
عبارت له هغې فرعي یا ځانګړې کوڅې څخه دی چې د مشاع ملکیت حکم لري او خاوندان یې د شریعت او قانون له حکمونو سره سم د لارویو د تګ او راتګ مخنیوی، خرڅولو او تقسیمولو حق ونلري.
دری:[راه خاص]

## ځانګړې وجوه
هغه وجوه ده چې په بې عوضه توګه دولت ته ورکول شوي وي او ترلاسه کول او لګول یې د یوه مشخص هدف په منظور د قانون له حکمونو سره سم وي.
دری:[وجوه خاص]

## ځانګړی یا قراردادی استوګنځی
هغه استوګنځی دی چې شخص یې د ځینو مواردو له مخې د قانون له حکمونو سره سم په یو ټاکلي ځای کې ټاکي. دری:[اقامتگاه خاص یا قراردادی]

## ځانی تورم
هغه ځاني تورم دی چې د ضربې یا صدمې په واسطه په بدن کې را ښکاره کیږي. دری:[تورم جسمی]

## ځمکه باندې منقول منصوبات
هغه منقول شیان دي چې په ځمکه باندی نصب یا غرس شوی وي. دری: [منقولات منصوب در زمین]

## ځورول
د جزاء ګانو د اذیت ورکولو له ځانګړیتوب څخه بلل کیږي. دری: [رنج آوری]